مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر
۲۰۲۳/۰۵/۱۳

# د دهشتګردی او ترهګری نه اوچت کارو بار

## په دنیا کې نشته

د پاکستان آی، اس آی استخباراتي شبکه د پنځوس کلنو راپډې خوا ترهګر روزی ،او تر هګر جوړوی ،او د دې کاروباره څخه بی شمیره پیسي لاس ته راوړي ،او دا پیسي بیا په خپل پوځ مصرفوی یا لګوي ، د همدې پښتنو څخه تر هګر جوړوی ،خو د دوی په سر په جوړې شوی پیسو کې ، پښتانه بیا په دې پیسو کې حق نه لري ،چې خبره ورانه شي یعنی په دنیا کې په کوم ځای کې یو تخریبی عمل تر سره شي ، او یا یو ورانونکی عمل تر سره شي ،او د تر هګر سر د پاکستان څخه راووځي ،پاکستا ن پوځ او یا ملکی حکومت بیا همدا پښتانه د تر هګر په نامه غربی هیوادو ته تسلیم کړي ، په دي کې هم پیسی واخلی او خپل جعلی اعتبارات راټینګ کړي ،او چې د ترهګرۍ ضد جګړه پیل شي ،او بیا پاکستان پوځ نیغ شي، بیا د پښتنو په هماغه کلو او باندو وررننوځي ، چې کوم ده دترهګرۍ یا دهشتګردۍ له پاره روزلي ول ،ځکه نو ده ته خو معلومداره او ښکاره ده ،چې تر هګر چیرته دي ،ولی چې ده په خپله روزلي، د سیپتمبر د یولسمی ۲۰۰۱ کال نه راپډې خواه ټوله دنیا په دي باندی خبره ده ،چې د پاکستان (پوځ) ځومره عملیات تر سره کړي ،او په دې نامه یې هم پیسي جوړې کړي ،د میا افتخار حسین خبره ده چې د تر هګری نه غټ کارو بارپه دنیا کې نشته ،پاکستان ډیر ښه کاروبار پیدا کړی ،عجیبه خبره دا ده چې پاکستان د بد نامی جاسوسی شبکی چې تر هګرېي جوړ کړي ،یعنی د همدې پښتنو نه یې جوړ کړي ،او بی شمیره پیسي پری ځان ته یعنی خپل پوځ ته پرې جوړې کړي ، پوځ یې ځان ته او د خپل تقویت په خاطر یې ځان ته واخلي یا پیسي جوړې کړي ، او په دي نامه هم د ځینو عربو پیسه دارو څخه هم پیسي تر لاسه کړي ،په دي پیسو کې بیا پښتانو ته هیڅ راز حق نشته ، حق خو لا څه کوي ، چې د پشتنو ملی شتمنی هم دوی وړي ، یعنی ملی شتمنۍ یې دوی غصب کړي دي ، بیا د ورانکارو پسی ، د پلټنو په نامه بیا عملیات تر سره کړي ،او په بیلو بیلو علاقو کې پوځ یرغل وکړي ، او په دي نامه هم خپل اعتبارات او د پوځ تقویت د لاسته راوړل شوی پیسو ، او د عربو په باد راوړل شوی پیسو ور ټینګ کړي ،بیا ورپسي چې ټولي لارې بندی شي ، بیا خو نو پوځ په مداریتوب کې نوم لري بیا آوازه ورګډه کړي ، چې تر هګر د افغانستان نه راځي بیا د افغانستان نوم په دي هم په ډاډه زړه اخلي چې په افغانستان کې خو هسی هم ګډوډي ده ، چې دوی هر څه ووایي ، دنیا یې ورسره مني ،او په ترڅ کې ګاونډی هیوادونه هم وایروی ،د اغزن تار پیلول یې هم د دي له پاره وکړل چې د دنیا په سترګو کې خاورې وشیندی چې ګوندی تر هګر د افغانستان څخه راځي ، او مونږ تری په تکلیف یو ، په داسي حال کې چې په خپله ده، تر هګر روزلي ، د عوامی نیشنل پارټي مرکزی جنرال سکرتری ،د میا افتخار حسین ویدیو چې د څو کالو راهیسی پر له پسي په فیسبوک کې او په میډیا کې راڅرخي د ده

خبری راځي ، چې په ویدیو کې پاکسان پوځ او حکومت ته په خطاب کې وایی (تا چې سرحد باندی اغزن تار راښکو ،نو بس اوس خو لار بنده شوه ،نو اوس دهشتګرد کوم ځای څخه راځي ، دا فکټری (فابریکه) چیرته لرېدلی ،مخکی خو به دي ویل چې د افغانستان نه راځي نو اوس خو لار بنده شوه اوس د کوم ځای نه راځي ،خو صفا ووایه : چې دا خلک تا ساتلي وو ،دا ستا خلک دي ، او بیا وایي : دا دهشتګردۍ به بندوئ ،او بیا وایي : د دهشتګردۍ نه په دنیا کې غټ کارو بار نشته دا د دي خلکو غټ کارو بار دی ، چې زمونږ په وینو یې کوي ،لهذا اوس خو چې کوم دی ، بیداری په کار ده ،اوس خو آواز اوچتول په کار دي چې د پاکستان حکمرانان موږ دي ته نه پرېږدو ،نه ملکی او نه پوځ چې دی به زما په سر سودا کوي ،دی به په افغانستان کې بد امنی کوی ،یا به د پښتنو په خاوره بد امنی کوی ،او وینی تویوي ،مونږ چې کوم دی ، څرنګه چې مخکی زمونږ فارمولا وه اوس هم ده چې د افغانستان اَمن زمونږ د آمن زامن دی ،او مونږ چې پاکستان آمن غواړو د خپلو بچو خیر غواړو ،د خپلو حجرو خیر غواړو، د خویندو د پړونی خیر غواړونو مونږ به ضرور په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

افغانستان کې اَمن راولو ، پاکستان کې به اَمن راځي ،)
بیا بل ځای ، د عوامی نیشنل پارټي مرکزی سکرټری ،افتخار حسین صاحب په خپله بله وینا کې قوم ته په خطاب کې داسي وویل : مونږ ځومره هوشیار خلک یو ، مونږ ته ښکاره ده ، چې په مونږ څه راروان دي ،او مونږ ورته لا بیا هم ګورو ،هر سړي دا خبره وکړه ، چې په مونږ یو سخته راروانه ده ،د پردې شاته یو لوی سازش روان دی ،پر مونږ حملي رواني دي ،او دلته میدان ګرمیږي ،د څه د پاره دهشت ګرد د پاره ، ستا او زما کور به ورانیږي ، په هغی کې به هم دوی ته پیسې راځي ،بیا به هر څه دوی روغوی بیا په دي کې به هم دوی ته پیسې راځي ،نو پښتون به په کې مری ،په اَ من کې به هم زه مرم ، او په سوله کې هم زه مرم، او دهشتګردی کې به هم زه مرم ،دا سازش نه دی څه دی ،مونږ تر ننه همدا وایو چې پالیسي بدلول غواړي ،دې کې شک نشته چې پالیسۍ بین الاقوامی دي ،شک نشته چې پالیسۍ به د روس او آمریکا وي ،خو زمونږ په ټاټوبی پاکستان د ننه ،چې د پارلمنټ د ننه خبره کوو،او یا د سنټ د ننه خبره کوو ،او یا دا نن چې ستاسو مخي ته ولاړ یو ،مونږ د پاکستان د غلطو پالیسیو غندنه کوو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ